محمد هارون خپل شعشعي

۱۸ اکتبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## لیکنه او څېړنه
## ۱۶

### ۳۲- جبر او اختیار :

د جبر او اختیار پیچلې مسأله، پر اسلامي تصوف او عرفان سربېره، په نورو ادیانو او فلسفي جریانوکي هم خورا ژوري ریښي لري . د جبر او اختیار په ژوره فلسفي او عرفاني مسأله کي، لکه څنګه چي ګورو، دوه متضاد عملونه نغښتي دي . یوې خوا ته جبر او بلې خوا ته اختیار پروت دئ . همدې دوو متضادو اړخو ته په پام سره څه کوو، چي لومړی هره برخه په جلا جلا توګه وپېژنو؛ او بیا د دواړو تر منځ ډیالکتیکي اړېکی، په لنډ ډول بیان کړو .

« جبر » په لغت کي زور، فشار، اکراه، اړ ایستلو، اجبار، قوت، طاقت، ځواک او داسي نوروته وایي۱. په اسلامي تصوف او عرفان کي د جبر مانا دا ده، چي د انسانانو ټول عملونه د حق تعالی د ارادي زېږنده دي . فردي ځواک او اراده ، د انسانانو په عملو کي اغېزمنه نه ده؛ په بله وینا هر څه د خدای په اراده کېږي؛ او الهي اراده د انسانانو په هر عمل کي جاري ده : « لا مؤثر فی الوجود الا الله . »

ویل کېږي، چي په اسلامي تصوف کي د جبر عرفاني او فلسفي تیوري د ابو الحسن علي بن اسماعیل اشعري ( ۲۶۰ - ۳۳۰ هـ ق) او پیروانو له خوا وړاندي سوې ده . د دې فکري ډلي په اند، د انسانانو ټول عملونه د خدای تعالی مخلوق، ابداع او احداث دي، چي الله تعالی په خپلي ازلي پوهي سره د پیدایښت له همغه لومړۍ ورځي څخه په « لوح محفوظ » کي لیکلي دي . د دې ډلي مخکښان استدلال کیي( کوي) : دا چي ظاهراً ګومان کېږي، انسان د خپل واک او ارادي خاوند دئ، په حقیقت کي لوی ښتن په خپله اراده، بندګانو ته ځواک

ورکيي، چي خپلي ارادي ته ورته يا نيژدي فعل وکړي[٢] . د دې خبري مانا دا ده، چي انسانان سره له ازادي ارادي او خپلواکو عملوبيا هم له الهي ارادې څخه د يوه وېښته په اندازه انحراف نسي کولای .

د جبر فلسفي او عرفاني تيوري په اسلامي نصوصو کي په پراخه توګه بيان سوې ده . اشعري او پيروانو يې، د خپلو نظريو د اثبات دپاره، د قرآن کريم په ځينو آيتو او نبوي حديثو استناد کړئ دئ، چي له هغوڅخه ځيني په دې ډول دي :

د دهر دسورې د دېرشم ( ٧۶: ٣٠) آيت « و ما تشاء ون الآ ان يشاء الله[٣] » د آل عمران د سورې شپږ ويشتم آيت ( ٣: ٢۶) « . . . و تعز من تشآء و تذل من تشآء[۴] »

د آل عمران د سورې څلوېښتم آيت ( ٣: ۴٠) « . . . کذالک الله يفعل مايشآء [۵]»، د آل عمران دسورې اووه څلويښتم آيت ( ٣: ۴٧) « . . . کذالک الله يخلق مايشآء [۶] »،د آل عمران د سورې درو اويايم آيت ( ٣: ٧٣) « . . . الفضل بيدالله توء تيه من يشآء . . . [٧] » ، د آل عمران د سورې يوسلوڅلور پينځوسم او يو سلو شپږ پينځوسم آيت ( ٣ : ١۵۴، ١۵۶)، د مايدې ( مائدې) د سورې لومړي آيت ( ۵ :١) « ان الله يحکم مايريد[٨] »، د مايدې د سورې څلور پينځوسم آيت « . . . فضل الله يوء تيه من يشآء . . . [٩] » ( دحديد د سورې د يوويشتم او نه ويشتم آيت ( ۵٧ : ٢١ ، ٢٩) وروستی برخي؛ او د جمعي د سورې څلرم ( ۶٢: ۴) آيت ، هم همداځکم بيانيي .)، د انفال د سورې اوولسم آيت ( ٨ : ١٧) « فلم تقتلوهم و لکن الله قتلهم و مارميت اذ رميت [١٠] » ،د حج د سورې اتلسم آيت ( ٢٢: ١٨) « . . . ان الله يفعل مايشآء [١١] »، د قمر د سورت نه څلوېښتم آيت ( ۵۴ : ۴٩) « انا کل شيء خلقنه بقدر [١٢] » په سپېڅلي قرآن کي په لسهاوو نور مثالونه هم موندلای سو، چي ټول د انسانانو په هر کار او هر فعل کي، د حق تعالی اراده زباتوي .

اختيار، څرنګه چي له نامه څخه يي ښکاري، په کړونو او عملوکي، د انسان د واک او ارادې، ازادی، خوښولو، غوره کولو او داسي نورو په مانا دئ . په عرفاني او فلسفي اصطلاح د اختيار مانا دا ده، چي هرعمل د انسان د واک او اختيار زېږنده دئ . د معتزله ډلي مشران په اسلامي تصوف کي د اختيار د فلسفي لومړني مخکښان وه . د دې ډلي بنسټ ايښوونکی - دحسن بصري عليه رحمة ( ٢١- ١١٠هـ ق ) له درسي کړۍ څخه بېل سوئ شاګرد - ابی حذيفه واصل بن عطأ (٨٠ - ١٣١ هـ ق ) ؤ. د معتزله ډلي پلويانو، ځانونه د عدل او توحيد څښتنان بلل؛ او حق تعالی يې د عدل پر خلاف له هر ډول کړني څخه پاک او منزه ګڼه . د دوی له نظره، داچي ځيني وايي خدای تعالی له ازله د انسانانو برخي ټاکلي دي؛ او په هغوکي د يوه وېښته په اندازه تېر و بېر نه راځي، په حقيقت کي د الهي عدالت پر ضد خبره ده؛ ځکه که داسي وي نو خدای تعالی خپلو بندګانو ته د هغو ګوناوو له امله ايداد او جزا ور کيي، چي خپله يې د هغو په تقدير کي ليکلي دي . له همدې کبله، دا خبره د لوی پرورد ګار د عدالت او انصاف پر خلاف ده . د دې فکري او فلسفي ډلي مخکښانو، دغه راز استدلال کاوه : داچي خدای تعالی، انسانان نېک کار ته ګوماري؛ او له ناوړوکارو څخه يې منعه کيي؛ هغوی ته د ښوکارو په بدل کي ثواب؛ او د بدوکارو په عِوض کي جزا ور کيي، ټول له دې امله دي، چي انسانان په حقيقت کي د خدای تعالی مملوک دي . لکه څنګه چي مالک کولای سي د خپل مملوک په ژوند او مقدراتو کي تصرف وکي، خدای تعالی کولای سي د ټولو مخلوقاتو په ژوند او ارادو کي بشپړ تصرف وکړي؛ خو بشري عقل د الهي تصرفاتو او پرېکړو، په ګټه او حکمت نه پوهيږي . معتزله ډله، دانسانانو د ناوړو عملو په اړه استدلال کيي، چي خدای تعالی يوازي د ناوړه فعل خالق دئ، نه اجرا کوونکی[١٣] . دا ډله، د« قدريه » ډلي په نامه هم مشهوره وه؛ ځکه

ځانونه يي پر خپلو عملو قادر او واکمن ګڼل۱۴ . د اختيار د فلسفي او عرفاني تيورۍ پلويان د« مفوضه » په نامه هم ياد سوي دي۱۵ .

په قرآن مجيد او نبوي سُنت کي، د ښېکو کارو دکولو؛ او د ناوړه کار و د نه کولو په باب ټول حُکمونه او لارښووني، په واقعيت کي، د انساني ارادې او واک په مانا دي . د رعد د سورۍ د يوولسم آيت ( ۱۳ : ۱۱ ) په يوه برخه « . . . ان الله لا يغير ما بقوم حتى يغير و اما بانفسهم . . . ۱۶ » کي د انسانانو د اختيار مسألي ته په ډېرو ښکاره ټکو اشاره سوې ده . که انسان اراده او واک نه لرلای، نوخدای تعالی به هيڅکله هغه ته د توحيد، لمانځه، روژې، زکات، حج اوسلګونو نوروکارو دکولو؛ او د شرک،ارتداد، وژني، زنا، غلا او سلهاوو نورو کړنو د نه کولو اختيار نه ور کولای . که ريشتيا هم هرڅه يوازي د لوی څښتن په اراده کيږي، بيا نو انسان څرنګه د هغه عمل پرتيا يا ايداد ګوري، چي اصلاً دده په اراده نه دئ سوئ؛ او دی يي په کولو کي هيڅ تقصير نه لري؛ ځکه د جبر د تيورۍ له مخي خو انسان له لويه سره په خپلو کړنو او عملو کي هيڅ اراده نه لري . حقيقت دادئ، چي د جبر او اختيار متضادي مسألي په خپلو منځوکي، نه شلېدونکي اړيکي لري . که و وايو، چي د کايناتو هر موجود، د حق تعالی په امر او اراده ښوري؛ يا هيڅ موجود د الله سبحانه و تعالی له ارادې پرته نسي خوځېدلای، ښېخي سمه او پرځای خبره ده . دغه راز، که و وايو چي خدای تعالی انسان ته د پوهي اوعقل په ورکولو سره، د ښو او بدوتر منځ د توپيرکولو واک ورکړئ دئ، هم په بشپړه توګه سمه او دقيقه خبره ده . له دې خبرو څخه دا نتيجه اخيستل کيږي، چي انسان هم مجبور او هم ازاد دئ . مجبور په دې دئ، چي د هرکار په کولو او نه کولو کي يي، د خدای تعالی اراده نغښتي ده . د الله تعالی له ارادې او غوښتني پرته، يوه خاشه هم پر بله نسي اينښوولای . ژوند او مړينه يي دحق تعالی په لاس کي ده . له بلي خوا، انسان ازاد په دې دئ، چي د ښو او بدو تر منځ د توپير او تشخيص حق ورکړل سوئ دئ . په بله ژبه، د اجر او ثواب په ورکولو سره ښوکارو ته هڅول سوئ؛ او د ناوړه کارو په صورت کي يي د پرتيا او ايداد خبره سوې ده . په دې توګه، انسان دخپل مادي او مانوي( معنوي) جوړښت په ځينو برخوکي ازاد؛ او په ځينو نورو برخوکي مجبور دئ .

د اسلامي تصوف او عرفان نظريه پردازانو، د جبر او اختيار فلسفي مسأله، له بېلابېلو زاويو او اړخو څخه څېړلي ده؛ د دې پوښتني په اړه يي هـــــــــــم څرګندوني کړي دي، چي انسان په کومو کارو کي مجبور او په کوموکي مختار دئ . دلته د ځينو مخکښو عرفاني لارښوونکو له نظرياتو څخه ځينو ټکو ته ځغلنده کتنه کوو .

د تصوف او عرفان نوميالييو په خپلو منثورو او منظومو ليکنوکي، د جبر او اختيار پر بېلابېلو اړخو خورا په زړه پوري خبري کړي دي . ځينو د « جبر » او ځينو د « اختيار » خوا ټينګه کړې ده . ځينو د دواړو تر منځ د ټينګو او نه شلېدونکو اړيکو خبري کړي دي . د پارسي ژبي مخکښ عرفاني شاعر- حکيم سنايي غزنوي ( د پينځمي هجري پيړۍ د دوهمي نيمايي په لومړيو يا منځنييو کلو کي، په غزني کي زېږېدلئ؛ او د ۵۲۵ - ۵۴۵ هـ ق کلو تر منځ مړ سوئ ) په خپل « حديقة الحقيقة و شريعة الطريقة » کي د جبر فسلفي اوعرفاني نظريه داسي بيان کړې ده :

« کفر و دين، خوب و زشت وکهـنه ونو
ير جع الامـــر کله زی او
هر چه در زير امر جبـــارند
همه بر وفق کـار ند

همه مقهور و قدرتش قـاهر

صنع او بر ظهور شان ظـاهر

هم موقوف قدرت و حلمــش

همه محبوس سابق علمش۱۷ »

د پارسي عرفاني ادب بل وتلي مخکښ - شيخ فريدالدين عطار نيشابوري ( ۵۴۰ - ۶۱۸ هـ ق ) په خپله « الهي نامه » کې د جبر او اختيار په باب داسي کښلي دي :

مدامت اين حـــکايت حسب حال است

که از حکم ازل گشتن محال است

چه بر خيزد ز تدبيری که کــردند؟

که ناکام است تقديری کــه کردند

د اسلامي عرفان تلپاته ستوری - مولانا جلال الدين بلخي رومي ( ۶۰۴ - ۶۷۲ هـ ق ) د خپل ستر او ارزښتناک عرفاني اثر « مثنوي معنوي » د « ذولقرنين او قاف دغره » په کيسه کې، همدا فلسفي او عرفاني نظريه راوړې ده . د ده په نظر نه يوازي انسانان، بلکې د قاف دغره په ګډون، ټول مخلوقات د خپل خالق په لاس کې اسير دي . دا عرفاني کيسه ډېره اوږده ده ؛ او د څو بيتو په راوړلو سره يې مغز يا مقصد نه څرګندېږي، له دې امله يې دلته له ليکلو ډډه کوو۱۸. مولانا بلخي رومي، د عقل له مخې « جبر » تر « اختيار » غښتلی او ځواکمن بولي :

در خرد جبر از قدر رسواتر ست

زانکه جبری حس خود را منکرست

مولانا رومي، د انسان په عملوکې د « اختيار » خوا ته هم په ډېر ارزښت ګوري :

اينکه گويي اين کنم يا آن کنم

خود دليل اختيار است ای صنم

په يوه بل ځای کې، بياهم د انسانانو په کړو او فعلو کې د هغو د ارادې او واک پر مسأله ټينګار کيي :

« غير حق را گر نباشد اختيــار

خشم چون می آيدت بر جرم دار ۱۹ »

وتلي او منلي عرفاني مفکر - شيخ عزيزالدين بن محمد نسفي (۶۳۰ - ۷۰۰هـ ق ) هم د جبر او اختيار د ژوري فلسفي او عرفاني مسألي په باب خورا په زړه پوري نظريې وړاندي کړې دي . هغه عقيده لري، چې د خدای تعالی پوهه د انسانانو د واک او اختيار خنډ نه ده؛ خو د الله تعالی اراده دانسانانو د واک او ارادې خنډ ده۲۰ . له دې خبرې څخه دا مانا اخيستل کيږي، چې لوی ښښتن د کايناتو د هر موجود په باره کې، له خپلې بشپړه پوهه سره سره بيا هم هغه ته واک او اختيار ورکړئ دئ . د انسان اراده هغه مهال خپله اغېزمنتيا او خپلواکي له لاسه ورکيي، چې د الله تعالی د پرېکړې په وړاندې ودريږي يا له هغې سره ټکر وکړي . د شيخ نسفي د نظريې د لا ښه روښانولو دپاره دلته د يوه ژوندي مثال يادونه بې ګټې نه ده . په دې خبره ټول پوهېږو، چې انسان کولای سي په خپل، کور، دفتر، دوکان يا بل هر ځای کې د برېښنا سويچ مړ يا روښانه کې . دا عمل د ده خپلواکی او اختيار ښکارندوی دئ . سره له دې واک او اختياره، انسان نسي کولای د نورو کورو يا د برېښناکوټ د برېښنا په وېش يا نورو تخنيکي چارو کې څه لاسوهنه وکي؛ ځکه چې د ده اراده او اختيار تر يوې ټاکلې ګچې پورې دئ؛

او تر هغې دباندې د خپلې ارادې او اختیار د تعمیل واک نه لري . که چیرې په ناپوهی یا سرتمبګی سره له ټاکل سوې دایرې څخه د وتلو یا له ټاکل سوو قوانینو څخه د سرغړوني کوښښ وکي، بیا نو بې نابودی او تباهی بل څه نسي تر لاسه کولای . بالعکس هغه څوک، چې په بریښنا کوټ کې ناست دئ، په ډېرې اسانی سره کولای سي، د پام وړ شخص په ګډون د ټولې سیمې د خلګو بریښنا کنټرول کي . په کورو کې د خلګو د بریښنا کنټرول د هغوی د ارادې او اختیار د شنډولو مانا لري . د همدې بشري مثال په ډول، خدای تعالی په ټاکل سوې دایره کې هر انسان ته واک او اختیار ورکړی دئ، چې د زړه په غوښت عمل وکي؛ خو تر ټاکل سوې دایرې دباندې یې له هر ډول ارادې او اختیار څخه بې برخې کړی دئ . د ټاکل سوې دایرې پراخوالی د لوی څښتن په اراده او د انسان په زیار او کوښښ پورې تړلئ دئ . تر هغه وخته چې فردي اراده له الهي ارادې سره ټکر پیدا نکړي، انسان کولای سي په خپله اراده عمل وکي .

شیخ نسفي، « الهي امر »، « الهي قضاءء » او « خدایي قدر » ته د درو مترادفو اصطلاح ګانو په سترګه نه ګوري، بلکې دا درې داسي بېل نومونه بولي، چې د مانا له اړخه یو له بله توپیر لري . د ده په نظر، د خدای تعالی پوهه او عِلم ( چې ازلي بڼه لري)، د هغه « حکم یا امر » دئ . د الهي پوهې د عملي کولو په مقصدد وسیلو او اسبابو را منځ ته کول د هغه « قضاءء » ده ؛او د همدې وسیلو او اسبابو په کار اچول، دحق تعالی « قدر » دئ ٢١ . شېخ نسفي، استدلال کیي که څوک و وایي، چې « قدر » رد کېدای سي هم سم وایي؛ او که و وایي چې د « قدر » رد ناشونی دئ، دا خبره هم سمه ده؛ خو په کُلي توګه د « قدر » ردول ممکن نه دي . د « قدر » د یوې برخې ردول هم په خپله د « قدر » له خوا کیږي؛ د مثال په توګه یو څوک ډېرشات ( عسل ) خوري . شات یې زړه ور تودیي ؛ او د هغه له امله په تبه اخته کیږي . وروسته دابېره را پیدا کیږي، چې ښایي سړی له دې ناروغی څخه مړ سي . طبیب ناروغ ته د کافور ګولی ورکیي، چې په بدن کې یې تودوخه له منځه یوسي؛ او په دې توګه ناروغ بیرته جوړیږي . دلته د ناروغ په وجود کې تودوخه بې شکه د حق تعالی « قدر » دئ؛ خو د کافور په مرسته سوړوالی هم د لوی څښتن « قدر » دئ . په دې ډول، یو« قدر » د بل « قدر » له خوا رد سو . داسي حالتونه هم خورا ډېر دي، چې هوښیار طبیب او لازم درمل هم چمتو یې؛ خو د ناروغ درملنه او علاج ونسي . د شیخ نسفي په اند، هغه څه چې انسان یې کیي « تدبیر »؛ او هغه چې بل څوک یې کیي « تقدیر » دئ . که حقیقت ته وګورو دواړه یو دي . یاني دواړه الهي « قدرونه » دي . هر « قدر » د خپل ضد په مرسته له منځه ځي٢٢ .

د وحدت عرفاني ښوونځی، باور لري چې د خدای تعالی او موجوداتو تر منځ هیڅ بېلوالی نسته . خدای د موجوداتو اجمالي بڼه؛ او موجودات د حق تعالی تفصیلي بڼه ده . د وحدت په ښوونځی کې، له دې امله چې نه خالق سته نه مخلوق؛ دا مسأله نه څېړل کیږي، چې د تفصیلي بڼې (موجوداتو) په کاروکي، د اجمالي بڼې ( خدای تعالی) ځونه لاس دئ؛ ځکه په دې عرفاني او فلسفي ښوونځی کې، خدای او موجودات سره یو دي، په کایناتو کې هرکار او هره پېښه، په حقیقت کې، د خدای تعالی له خوا کیږي . له دې امله د وحدت په دونیا کې، د جبر او اختیار مسأله نسته . په پارسي ادب کې د وحدت دعرفاني او فلسفي مکتب پیاوړی لاروی - عبدالرحمان جامي هروي ( ٨١٧هـ ق/ ١٤١٤م - ٨٩٨هـ ق/ ١٤٩٢م) په یوه څلوریځه کې دا مسأله داسي بیان کړې ده:

« چون حق به تفاصیل و شؤون گشت عیان
مشهود گشت این عالَم پُر سود و زیــان

چون باز روند عالَم و عالمـیان
در رتبۀ اجمال حق آید به میان ۲۳ »

شېخ نسفي، د وحدت د عرفاني او فلسفي نظريي د پلويان په اړه وايي : بې حيواناتو، د موجوداتو په ټولو پړاوو کي، حس او ارادي حرکت نشته . حس، ارادي حرکت او اختيار په حيوان پوري تړلي دي . اسمانونه، ستوري، ملايکي، عنصرونه او طبيعتونه حس، ارادي حرکت، اختيار، عقل او پوهه نه لري . ټول په خپلو کارو اخته دي؛خو هيڅ يو له ور سپارل سوي دندي يا مسووليت څخه سرغړونه نسي کولای . داعمل د دوی له پوهي، فکر او واک پرته، د دوی په وجود کي پيداکيږي۲۴ . شيعه عالمان په دې باور دي، چي خدای له ازله ، د هر شي ذات او صفتونه پېژني؛ د هر شي په گچه او اندازه خبر دئ . په دې ډول، د حق تعالی پوهه د هغه تقدير دئ . سني عالمان، عقيده لري، چي خدای تعالی نه يوازي په ازل کي د هر شي ذات، صفتونه او اندازه پېژنده، بلکي غو ښتي يې دي . د دې خبري مانا داده، چي د حق تعالی پوهه او اراده، دهغه تقدير دئ۲۵ . شېخ نسفي زياتيي : هر هغه څه چي يې د سفلي عالَم د لوح محفوظ په توگه، په علوي عالَم کي ليکلي دي، گرده کُلي او عمومي بڼه لري . له دې امله موږ د دې شيانو او پېښو په باب واک او اختيار لرو؛ تر لاسه کول او له منځه وړل يې زموږ په واک کي دي . د دې استدلال له مخي، موږ د هغه څه په هکله پوره واک او اختيار لرو، چي زموږ په نطفه کي په مجموعي او کُلي ډول کښل سوي يي؛ مگر د هر هغه څه په وړاندي مجبور او بې وسه يو، چي زموږ په نطفه کي له جزيياتو سره ليکل سوئ يي۲۶ . د انسان په نطفه کي د جسم ، اروا، استعداد او بېلابېلو کړنوبيان سوئ دئ . انسان پر جسم او اروا سربېره، د استعداد په وړاندي هم مجبور دئ؛ مگر د خپلو عملو په وړاندي د واک او اختيار خاوند دئ . دا ځکه چي جسم، اروا او استعداد له خپل ټول ځرنگوالي او څونه والي سره، د انسان په نطفه کي ليکل سوي دي؛خو د انسان د افعالو کم وکيف په نطفه کي نه دئ کښل سوئ؛ د مثال په توگه، د انسان په نطفه کي يې پوهه،رزق، شتمني، جاه او جلال نه دي ليکلي . ياني ( يعني) دايي نه دي کښلي، چي پلانی به څونه او ځرنگه زده کړه کيي . په همدې ډول يې دا نه دي ليکلي، چي پلانی به څونه مال او دولت تر لاسه کيي؟ او دهغو دموندني لار به يې څه ډول يي؟ دا ځکه چي دانسان په نطفه کي د هغه د استعداد، تعليم و تحصيل، مال او شتو په باب، يوازي کُلي او عمومي يادوني راغلي دي . شېخ نسفي، په افعالوکي د انسان د ازدای او واک په باب استدلال کيي : که انسان په خپلو عملو کي مجبور يي، نو ولي د نېک کار کوونکی د ستاينې او وياړني وړ؛ او د ناوړه کار کوونکی د غندني اوگرمتيا وړ گڼل سوئ دئ ؟ دغه راز ولي پوه کسان امر بالمعروف او نهی عن منکر کيي؟ انسان له خپلي غوښتني سره سم، هر څه وايي اوکيي۲۷ .

شېخ نسفي، د جبر او اختيار د خپل منځي اړيکو په باب داسي عقيده لري : « هغه کسان خطا کيي ،چي هر څه د جبر زېږنده بولي . هغه کسان هم تېر وتلي دي، چي په هر څه کي يوازي د خپلي ارادې او اختيار پلوي کيي . هغه څوک، چي پر جبر او اختيار دواړو باور لري، هغوی سم او سهي ( صحيح ) فکر کيي . دوه شيان انسان مقصد او هدف ته رسيي : اول عقل، دوهم عمل . انسان د عقل په شته والي کي مجبور دئ؛ او د عمل په کولو کي مختار . په دې ډول، جبر او اختيار د انسان دوه وزرونه دي . که دا دواړه وزرونه نه يي؛ انسان خپلي موخي او مرام ته نسي رسېدلای . عقل هم دوه ډوله دئ : اول غريزي عقل، چي هغه استعداد دئ . دوهم مستفاد عقل، چي هغه دعقل کمال دئ . عمل هم پر دوه ډوله دئ : دزړه عمل او د کالبوت يا قالب عمل . د همدې دليلو له مخي که د چا په جسم، اروا او استعداد کي څه ليکل سوي يي، په لړ هڅه او کوښښ سره کولای سي هر څه تر لاسه کړي؛ ځکه په تقدير کي يې له ازله ليکل سوي دي؛ خوکه يې د چاپه نطفه کي استعداد نه يي

ليكلئ، هغه ته نو د پوهي او حکمت يا مال او منال تر لاسه کول گران اوحتا ناممکن کار دئ؛ ځکه داسي ځوک، په خپل کوښښ سره، په حقيقت کي د هغه شي غوښتنه کيي، چي له لويه سره د ده په حق کي، نه دي ليکل سوي ۲۸ . شيخ نسفي، په خپل بل مشهور عرفاني او فلسفي اثر (کشف الحقايق) کي د همدې مسألي د نورو اړخو په اړه داسي ليکي : « خداى فاعل او مختار دئ . د خير او شر، کوېر ( کفر ) او ايمان، دعباد او افعالو خالق دئ . بې ده بل خالق نسته . بندگان د خپل فعل خالق نه دي ؛ خو واک لرونکي فاعلان دي۲۹ .

د « جبر و اختيار از ديدگاه علمی و فلسفی و ميتافيزيکی » ليکوال ښاغلي محمدتقی جعفری هم پر نورو فلسفي او فکري ښوونځييو سربېره، د اسلامي نصوصو په رڼا کي، د جبر او اختيار د مسألي د دواړو اړخو په باره کي، په زړه پوري ټکي بيان کړي دي . دلته د ځينو هغو قرآني آ يتو يادونه کوو، چي په دغه گټور علمي او تحقيقي اثر کي اشاره ورته سوې ده . د مدثر د سورې په په اته دېرشم آيت ( ۷۴ : ۳۸ ) کي داسي راغلي دي : « کل نفس بما کسبت رهينة » ياني هر نفس به ( د جزا په ورځ ) د هغه کار په گرو کي يي،چي کړی يې يي . په دې مبارک آيت کي، د الله تعالی له خوا ايداد او جزا د انسانانو په عملونو پوري تړل سوې ده۳۰ . د شمس دسورې په په اتم، نم او لسم آيت ( ۹۱ : ۸ - ۱۰) کي د باري تعالی داسي حُکم بيان سوئ دئ : « فالهمها فجورها و تقوها قد افلح من زکهاو قد خاب من دس ها» ياني انسان ته يي د بدئ او نېکی ځواک ورکړ؛ هغه و ژغورل سو، چي خپل نفس يي پاک کړ؛ او هغه ځوک نامينده سو، چي خپل نفس يي وران کړ ۳۱. د نسآء د سورې په څلوېښتم آيت ( ۴ : ۴۰ ) کي داسي لاربنوونه سوې ده : « ان الله لايظلم مثقال ذرة » ياني په ريشتيا سره، خداى د يوې ذرې په اندازه ظلم نه کيي .

په قرآن کريم کي، اتيا پلا داسي يادونه سوې ده، چي د هغو له مخي ظلم او ناروا ټول د انسان په نفس پوري تړلي دي؛ د مثال په توگه د توبي د سورې د اوويايم آيت په يوه برخه کي د : « . . . فما کان الله ليظلمهم و لکن کانوا انفسهم يظلمون » ياني خداى پر هغو ظلم نه کاوه، بلکي هغوی پر خپلو ځانو ظلم کاوه۳۲. د بني اسراييل ( اسرأ ) د سورې د اتلسم او نونسم آيت د حُکمو له مخي د دونيا يا آخرت انتخاب د انسان په واک او ارادي پوري تړلئ دئ . په دې مبارکو آيتوکي داسي راغلي دي : « من کان يريد العاجلة عجلنا له فيهامانشآء لمن نريد ثم جعلنا له جهنم يصلها موما مدحورا و من ارادالاخرة وسعی لها سعيها و هو مؤمن فاولئک کان سعيم مشکورا » ياني هغه ځوک چي يواز ي دونيا غواړي، د هغه دپاره په همدې دونيا کي، لکه څنگه چي و غواړو ، اوهغه چا ته چي وغواړو، ببړه او تلوار کوو . وروسته به دوږخ ته ننوزي اوهلته به پړ او ( د خداى له رحمته ) شړل سوئ يي . هغه ځوک چي د آخرت نيت وکړي؛ او د هغه دپاره هڅه وکړي، په داسي حال کي چي د ايمان څښتن يي، د هغو کوښښو ته به اجر ورکړل سي۳۳ . د آل عمران دسورې د يوسلو اتم آيت ( ۳ : ۱۰۸ ) په وروستی برخه « . . . و ما الله يريدو ظلما للعلمين » کي بيا هم پر موجوداتو باندي د حق تعالی د ظلم نه کولو ښکاره حُکم بيان سوئ دئ۳۴ . د قرآن مجيد په درو څلوېښتو آيتو کي د ارادې ټکی د هغه له مشتقاتو سره په حق تعالی پوري تړل سوئ دئ؛ او په څلورنيوي ځايوکي په انسان پوري تړل سوئ دئ . په هغو ځايو کي، چي اراده او اختيار په انسان پوري تړل سوئ دئ، ټول د دې حقيقت څرگندوی دي، چي انسان د واک او اختيار خاوند دئ؛ او کارونه د هغه په خپله اراده کيږي۳۵ .

د روښاني سير او سلوک مفکرو عرفاني لارښوونکو هم د جبر او اختيار په باب ارزښتناک نظريات وړاندي کړي دي ؛ لکه څنگه چي د وحدت الوجود او وحدت الشهود، هستی او نېستی، فنأ او بقأ تر سر ليکونو

لاندي  اشاره سوي ده، روښانیان ټول موجودات او مخلوقات، د یوه خالق  دلاس پیدا اومصنوع بولي، چي د « جبر فلسفي او عرفاني نظریه بیانوي  .

د روښاني عرفاني طریقت  بنسټ اېښوونکي، بایز ید روښان اورمړ ' انصاري' ( ۹۳۱-  ۹۸۰ هـ ق ) د آل عمران د سورې یو سلو څلور پینځوسم آیت ( ۳ : ۱۵۴) « قال لوکنتم فی بیوتکم لبرزالذین کتب علیهم القتل الی مضاجعهم ۳۶» په استناد، د« جبر » د فلسفي اوعرفاني نظریې  په دفاع کي دریږي  . دغه راز، پیر روښان  د قرآني لارښوونو له مخي عقیده لري، چي دهر کار په کولو کي د څښتن تعالی په حُکم او ارادې سره، د انسان سترګي ړندیږي . هغه د جبر د فلسفې په زباتولو او تأییدکي د رسول الله ( ص )  دي مبارک حدیث ته ګوته نیسي : « تقدیر الرحمن اضحک علی تدبیر الانسان » یاني  د حق تعالی اراده او تقدیر د انسان پر تدبیر خاندي۳۷ .

زموږ  اندېښمند عارف شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپله عارفانه شاعرۍ کي د اسلامي نصوصو په پیروی، د جبر د فلسفي څرګنده پلوي کړې ده .  هغه په ځینو شعرو کي، د قرآن کریم د انفال د سورې د اوولسم آیت ( ۸: ۱۷) په  یوه برخه « . . . و مارمیت اذ رمیت »  استناد کیي ؛ او د هغې له لارښووني سره سم ، دانسانانو هر  عمل  د حق تعالی اراده ګڼي :

مارمیت اذ رمیت پیــغام واروه!
درسول فعل د حق د حرکـات دئ
په آرسی کښي د صورت حرکت ګوري!
هغه واړه د سرې د کار آیات دئ
حق دکل عالَم ارواح خلق یې جسم
په ارواح یې حرکت هم یې اصـوات دئ

مخلص، د قرآني آیتو او نبوي احادیثو له حکمو او لارښوونو سره سم، د برخو د ازلي وېش په وړاندي کولو سره د « جبر » د تیورۍ  یو بل ښکلی  انځور بیان کړئ دئ :

د هر چا د بخرو وېش په ازل ســوئ
دچا بخره یې ګُمان د چا ایقــان که
و کافر تې جهل ورکه په زیاتی کښي
د مؤمن یې په ایمان مزید ایمان که

په یوه بله غزله کي، د قرآني نصوصو په استناد، د هر شي قوت او حرکت، د حق په هستۍ کي ګوري، چي بیا هم د « جبر » د عرفاني او فلسفي نظریې د پلوۍ یو بل په زړه پوري مثال ګڼل کیږي :

کُل اشیاء دي لاقوت لاحـــوله واروه!
پر مولایې دئ قوت هم یې حصـاصه
پر دریاب د خس جنبش له ځانه نه وي
په امواج یې د دریاب دئ الحـــصاصه
د عاشق مضطر ګناه په اختـــیار نه ده
ګناهګار بې قصده خلاص دئ له قصاصه

د همدې غزلي په یوه بیت کي، د « جبر » د عرفاني نظریې په باب، د خپل د ثبوت دپاره  د « لایتحرک شئ الا باذن الله  » نبوي حدیث، د دلیل او حجت  په توګه یادیي  :

لایتحرک شئ  په غــوږ و واروه!

په جهان کښي که آفتاب، ستوری دئ، عاصه

محرک د عالَم یو دئ په جهان کښي

که پر ځمکه دئ حیوان، کاني اعیاصه

مخلص، بیاهم د قرآني حُکمو او اسلامي روایتو پر بنسټ د الهي  ارادې او ځواک په وړاندي، دانسان اراده باطله او بې اثره ګڼي :

موسی اور غوښت ده نبي که

دا خبره ده عــجبه

عُمَر قصد د پیغمبر کــه

خدای ایمان ورکه اغلبــه

دحق کار کُل بې علت شــه

آدم روغ بې اُم و ابـه

علي محمدمخلص، په خپله پارسي شاعرۍ کي هم د جبر او اختیار د ژوري عرفاني او فلسفي مسألي پر ځینو اړخو رڼا اچولي ده .  په یوه مثنوي کي یې د الهي ارادې په وړاندي، د انسان مادي او مانوي کمزوري داسي بیان کړې ده :

« . . . چون قضاء آید بری عاقل ز حق

عقل او زایل شود بشنــو سبق

کور گردد گر بود بینا بصـــر

گولی ابله می شــود دانا خبر

چون همه مجبور حق اند مخلصـــا!

کار خود با حق گذاری مبتلا. . . ۳۸ »

مخلص، په یوه عارفانه پارسي مثنوي کي، د هغه چا حالات او ځانګړتیاوي تشریح کیي، چي د کایناتو هر څه د قضاء په واک او اختیار کي ګڼي :

« کسی کز لار و قدر شد خبـر

ندارد درین کار دشمــن حذر

نترسد ز شیر و نه ز  ز هر مــار

نه از فیل و گرگ و نـی از آب ونار

که بی اذن قادر شنو ای  جــوان

نتاند که به کس رساند زیـــان

که تا حُکم خالق نباشد عـزیز

نیابی ضرر شنو از هیچ چـــیز

نمیرد کسی بی لار در جهان

لار چون رسد می نماند زمـان

کند خنده تقدیر بر آن کـسی

که تدبیر تقـدیر سازد بســی
بدشمن مکن پشت روز نبــرد
که تدبیر انسان لار رد نکرد . . . ۳۹ »

په بله مثنوي کي، ددې عرفاني نظريې شننه او سپړنه کيي، چي په ټولو پيښنو کي اصلاً د يوه واکمن لاس دئ؛ او د هر چا اراده د هغه له خوا ځارل کيږي :

« اگر عز و جاه است و گر ذل وقید
من از حق شناسم نی از عُمـــر و زید
اگر نه که سلطان اشارت کنــد
کی را زهره باشد که غارت کنـد۴۰»

مخلص، په « حالنامه » کي د الهي قضاء په باب، له حضرت علي کرم الله وجهه څخه د چا د دې پوښتني يادونه کړې ده : « عرفت ربی ؟ » ياني خدای دي په څه و پيژندئ ؟! ده ورته وويل : « بفسخ العزايم » ياني د هوډ او ارادي په فسخه کولو يا له منځه وړلو. ياني هغه څه، چي ما غوښتل، نه کېدل . له دې امله پوه سوم، چي ټول کارونه د بل چا په واک او اراده کيږي . مخلص، همدا عرفاني خبره د شعر په ژبه داسي بيانيي :

« کسی ز چون و چرا دم نمی تواند زد
که نقش بند حوادث و رای چون و چراست
چرا مگو که چرا دست بستهٔ قدر است
ز چون مه لاف که چون تیز پایمال قضاء ست ۴۱»

زموږ د مدقق عرفاني شاعر،علي محمد مخلص، نظريې د خپل عرفاني لارښود - پير روښان او نورو صاحب نظره عارفانو په څېر، يوازي د « جبر » په دايره کي نه دي محدودي . هغه، د انسان په مادي او مانوي بشپړتيا کي، د « اختيار » پر اړخ هم خورا ډېر ټينگار کړئ دئ . مخلص، انسان ته خبرداری ورکيي، چي په ژوندانه کي د الله تعالی په پيژندولو او نيکو کارو سره، د راتلونکي ابدي ژوند په باب فکر وکي . په بله ژبه، داسي ونه کړي، چي په تش لاس دونيا ته راسي؛ او په تش لاس بيرته ځيني ولاړ سي . په هر بيت او هره غزله کي، انسان ته سمه لار ښيي؛ او دمادي عالَم په ټولو چارو کي، د سم او معقول انتخاب سلا ورکيي . دنېکييو په ستاينه او د بدييو په کړنه کي د مخلص ژوري عارفانه نظريې، گرده د انسان د ارادي او اختيار بيانونکي دي . د دې خبري مانا دا ده، چي مخلص پر د جبر او اختيار پر ډيالکټيک يا نه بېلېدونکو خپلمنځي اړيکو ټينگ باور لري.

**لمنليکونه**

1 Wher 110 -111.

۲ عطار ۲۳۹ .

۳ ترجمه : تاسي د الله تعالی له غوښتني او هوډ پرته، دهيڅ شي اراده نسئ کولای .

۴ ترجمه : چاته، چي وغواړي عزت ورکيي؛ او چاته چي وغواړي ذلت او خواري ورکيي .

۵ ترجمه : خدای هغه څه کيي،چي اراده يې وکړي .

۶ ترجمه : خدای هغه څه پيدا کيي، چي د پيداکولو اراده يې وکړي .

۷ ترجمه : فضل او حکمت د حق تعالی په لاس کي دي، هغه چا ته يې ورکيي، چي اراده يې وکړي .

۸ ترجمه : بې شکه خدای تعالی هر هغه حُکم کيي، چي اراده يې وکړي .

۹ ترجمه : د الله فضل دئ، هغه چاته چي اراده يې وکړي، ورکيي يې .

۱۰ ترجمه : ( اې محمده! ) تا نه دي وژلي، هغوی خدای وژلي دي؛ او ( غشي ) تا نه دي ويشتلي، هغه مهال چي تا ( غشي ) ويشتلي وه .

۱۱ ترجمه : بې شکه لوی څښتن هغه کار کيي، چي اراده يې وکړي .

۱۲ ترجمه : په ريښتياسره، موږ هر شی په ( ازلي ) اندازه پيدا کړي دي .

۱۳ عطار ۲۳۸- ۲۴۱.

۱۴ عميد ۳: ۲۲۷۱ .

۱۵ عميد ۱: ۱۱۵ .

۱۶ ترجمه : بې شکه الله ( ج )د هيڅ قوم حالت نه بدليي، تر هغه مهاله چي هغوی په خپله هغه حالت بدل نه کړي، چي د دوي په نفسوکي دئ .

۱۷ سنايی ۱۵۴- ۱۵۵ .

۱۸ بلخی، دورۀ کامل مثنوی معنوی ۸۰۹ - ۸۱۱ .

۱۹ عميد ۱: ۱۱۵ .

۲۰ نسفی، انسان الکامل ۶۳ .

۲۱ نسفی، زبدة الحقايق ۶۷ .

۲۲ نسفی، زبدة الحقايق ۶۸ .

۲۳ جعفری ۲۰۹ - ۲۱۰ .

۲۴ نسفی، انسان الکامل ۴۳۳ .

۲۵ نسفی، انسان الکامل ۶۲ .

۲۶ نسفی، انسان الکامل ۲۱۱ .

۲۷ نسفی، انسان الکامل ۲۱۲ .

۲۸ نسفی، انسان الکامل ۲۱۵.

۲۹ نسفی، کشف الحقايق ۱۳.

۳۰ جعفری ۲۱۹.

۳۱ جعفری ۱۹۲.

۳۲ جعفری ۲۱۹.

۳۳ جعفری ۲۲۲.

۳۴ جعفری ۲۲۳.

۳۵ جعفری ۲۲۱.

۳۶ ترجمه : ( اې محمده! دوی ته) ووايه که تاسي په خپلو کورو کي وای، د هغو کسانو دپاره، چي مړينه ليکل سوې يې ؛ په ريښتيا سره به هغوی د خپلي مړيني ځای ته ورولي .

۳۷ مخلص، حالنامۀ بايزيد روښان ۲۳۲ .

۳۸  مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۴۰۷ .

۳۹ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان  ۶۱۷ .

۴۰  مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۴۲۷ .

۴۱  مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۴۴۰- ۴۴۱ .

ګران لوستونکي کولای سي د « جبر او اختیار » د ژوري او په زړه پوري فلسفي - عرفاني مسألې په اړه د لا زیاتو مالوماتو دپاره د ارواښاد پوهاند ډاکټر بهاء الدین مجروح ارزښتناک اثر ( د جبر او اختیار ډیالکټیک) هم وګوري . متأسفانه د پردېسی په دې شپو او ورځو کي مي دمګړی هغه  علمي او تحقیقي کتاب ته لاس نرسېدئ .

پاته لري